# د حمید بابا په شاعرۍ کښې مذهبي تلمیحات

## (Religious Allusions in the Poetry of Hameed Baba )

Issn 2304-1463


- Dr. Muhammad Farooq[1]
  **Phone # 03445219018**
  **E-mail Address: farooqanjumpashtonuml@gmail.com**
- Mr. Rizwanullah khan[2]
  **Phone #03409497280**
  **E-mail Address: rizwanullah.khan@numal.edu.pk**



## Abstract

Among classical Pashto poets, Abdul Hameed Momand stands out for his unique style and depth of thought. His poetry reflects a variety of themes and artistic dimensions. From an aesthetic point of view, his work exhibits diverse poetic expressions. Notably, the use of allusion is a prominent feature of Hameed Baba's poetry. His verses contain various types of allusions, among which religious allusions hold a significant place. He references numerous religious events in different contexts, effectively using them as poetic devices. These allusions not only enrich the literary value of his poetry but also highlight his deep understanding of religion and religious history. Owing to these qualities, Hameed Baba's poetry holds a distinctive place among classical Pashto literature. This article aims to critically analyze the use and significance of religious allusions in the poetry of Hameed Baba.


**Keywords:** Abdul Hameed baba, Pashto Literature, Prominent Feature, Classical, Literary value, religious allusions.

د پښتو شاعرۍ د کلاسیک دورې نازک خیاله او موشګاف شاعر عبدالحمید بابا چې په عمومي توګه د حمید بابا په نامه پیژندګلو لري، په پښتو شاعرانو کښې د منفرد مکتبِ فکر څښتن شاعر تېر شوے دے ۔د دهٔ په هم عصر شاعرانو کښې د دهٔ شاعرانه عظمت ډېر لوړ او د ستائنې وړ دے۔ ښاغلے زلمے هېواد مل ئې د شاعرانه عظمت او د شاعرۍ د فني نزاکت په اړه لیکي چې:

[1] Assistant professor, Department of Pakistani languages, NUML Islamabad
[2] MPhil Scholar, Department of Pakistani languages, AIOU Islamabad

"حمید بابا د شعر وئیلو عالي استعداد او مبتکر فکر درلود او د تازه مضمون په پېدا کولو کې د مهارت خاوند ؤ، حمید د خپل ادبي فعالیت په دوران کښې رنګیزه، ښکلې او د شعر په بدیعي ښکلاؤ سمبال شاعري وکړه، چې وروستو دی د موشګاف په لقب وستایه ـ "[1]

حمید بابا بنیادي طور یو نازک خیاله شاعر دے او بې شمېره نازک خیالات او تصورات ئې ډېر په هنري توګه د شعر په چوکاټ کښې بیان کړي دي ـ ولې د دې سره د هغهٔ کلام کښې نور ډېر بې شمېره فکري او فني جهتونه موجود دي، چې د دوي شاعري پرې د عالي ادب برخه ګرځېدلې ده ـ په دغه جهتونو کښې د فن له رویه یو علم بدیع هم دے، یعنې د دوي کلام د بدیع ښکلاګانې هم لري، د کومو سره چې په کلام کښې اضافي لطافت مخې ته راځي ـ ډاکټر اقبال نسیم خټک د علم بدیع د اهمیت په بابله لیکي چې:

"د علم بدیع مثال د کالو پترو دے، لکه څنګه چې ظاهري آرائش د مرصع زېوراتو په ذریعه کیږي، دغه شان د ښهٔ کلام ارائش د علم بدیع د حسن کارۍ په ذریعه کیږي ـ "[2]

که مونږه اوګورو نو د حمید بابا په کلام کښې دومره اثر او خوند رنګ دے چې د صنائع بدائع هیڅ حاجت نهٔ لري ـ خو بیا هم هغه په کلام کښې د صنائع بدائع د هنرونو له کبله داسې لطافت او باریکۍ پېدا کړې دي چې هر شعر ئې د ښکلا او هنر په لحاظ سره د فن په معراج ودرؤلے دے ـ په دغه فني هنرونو کښې یو د تلمیح صنعت هم دے، چې د حمید بابا په کلام کښې به ئې جائزه اخستے شي ـ

تلمیح د عربۍ ژبې لفظ دے او په وړومبي ځل ئې استعمال هم په عربۍ ژبه کښې شوے دے ـ وروستو دغه لفظ په نورو ادبیاتو کښې هم په خپل دغه اصلي شکل مستعمل لیدے شي ـ په لغوي لحاظ سره د "تلمیح" معنې یو څیز ته اشاره کول یا یو څیز ته کتل دي ـ

کله چې یو شاعر په خپل کلام کښې تېرې شوې څهٔ تاریخي پېښې یا واقعې ته اشاره وکړي صنعتِ تلمیح بللے شي ـ د تلمیح د استعمال سره لوستونکي ته اساني په لاس راځي او د دې سره سره ترې خوند او لطف هم اخلي ـ د تلمیح په حقله ډاکټر جهان عالم لیکي چې:

"څنګه چې د تلمیح د لغوي معنې څخه معلومیږي چې څۀ خاص واقعاتو یا حالاتو ته په رمز او اشاریت سره فام راګرځول تلمیح بللے شي، دغه شان په اصطلاحي ډول هم د تلمیح نه مراد په خپل کلام کښې د قرآن پاک ایت، احادیث مبارکه، څه مشهورې واقعې، تاریخي، سیاسي یا رزمیه پېښې، ځانګړي رسم، مذهبي دود، ثقافتي تخصیص یا بیا ډېر مشهور شعر راوړل دي. د کومو په شا چې یو لوے پس منظر وجود لري او د وضاحت او تفصیل متقاضي وي"[3]

په فکري او نوعیتي توګه د انساني ژوند سره تړلي مختلف قسم واقعات راروان دي، د وخت سره د دغه واقعاتو لړۍ دومره غزېدلې ده چې یو فکري وېش ئې مخې ته راغلے دے. لکه رسمي تلمیحات، تاریخي تلمیحات، مذهبي تلمیحات، روماني تلمیحات، سیاسي تلمیحات او داسې نور قسمونه . د تلمیح هر یو قسم په خپل خپل ځاے خپله پنګه او برخه لري. د نورو قسمونو غوندې د مذهبي تلمیحاتو برخه په هر یو ادب کښې لیدے شي. په پښتو ادب کښې هم د مذهبي تلمیحاتو ضخیمه ذخیره موجود ده. د مذهبي تلمیحاتو نه مراد هغه تلمیحات وي چې د مذهب سره تړون لري او مختلفو مذهبي پېښو او واقعو ته اشارې وي یا نېغ په نېغه ذکر شوي وي.د پېغمبرانو (ع) د ژوند سره تړلو واقعاتو ته اشاره ، د هغوي د معجزاتو تذکره او یا د قرآن پاک د ایتونو یادؤنه د مذهبي تلمیحاتو ښکاره نخښې دي. د دې نه علاوه نور هم کېدے شي چې د مذهب سره تړاؤ لري.د مذهبي تلمیحاتو د موضوعاتو په حقله ډاکټر مصاحب علي صدیقي لیکي چې:

"مذہبی تلمیحات کے سلسلہ میں اہم کڑی اس کے موضوعات کی ہے، اس کے موضوع متعدد اور بکثرت ہیں، معجزات کے کمالات، ائمہ، انبیاء، حدیثوں کا ذکر، تزکیہ نفس کے مراحل، شریعت، طریقت، معرفت، حقیقت کے اصول، تفسیر کی توضیحات، قیامت کی ہولناکیاں، شہداء کربلا کے واقعات، یہ سب مذہبی تلمیحات کے موضوع ہیں، ان کی اگر تحقیق کی جائے تو دفتر کے دفتر جمع ہو جائیں گے اور ان میں بیشتر حصہ ان ہی تلمیحات کا ہو گا"[4]

ترجمه: د مذهبي تلمیحاتو په سلسله کښې اهمه کړۍ د دې د موضوعاتو ده، د دې موضوعات لاتعداد او په کثرت دي، د معجزاتو کمالات، ائمه، د نبیانو ، د حدیثو ذکر، د تزکیه نفس

مراحل، شریعت، طریعت، معرفت، د حقیقت اصول، د تفسیر توضیحات، د قیامت نخښانې، د کربلا د شهیدانو واقعات دا ټول د مذهبي تلمیحاتو موضوعات دي. د دې که چرته تحقیق وشي نو دفترونهٔ دفترونه به ترې جوړ شي او په دې کښې به زیاته حصه د دغه تلمیحاتو وي.

په پښتو ادب کښې د تلمیح ابتداء د اولسي ادب نه شوې ده او ورو ورو ئې روایت په تحریري ادب کښې دوامیت موندلے دے. د پښتو شاعرۍ په وړومبي دور کښې د تلمیحاتو په حقله خاص څهٔ په نظر نهٔ راځي، ولې د دویم دور نه پس چې تر دې دمه کومه لړۍ رارسېدلې ده نو د تلمیح برخه په کښې په پرېمانه پېمانه موجود ده.

د نورو شاعرانو نه علاوه د عبدالحمید بابا په شاعرۍ کښې هم د تلمیحاتو پوره برخه ده. د هغوي په شاعرۍ کښې تقریباً د هر نوعیت تلمیحات په نظر راځي. یوه لویه برخه په کښې د مذهبي تلمیحاتو هم ده، چې د حمید بابا د مذهب په حقله د کره پوهې ادراک ترې هم کېدے شي. حمید بابا په خپله شاعرۍ کښې مختلفو مذهبي واقعاتو ته اشارې کړې دي، چې مختلف پس منظرونه او د یادؤنې اسباب لري. زهٔ به دلته د حمید بابا دوه شعرونه پېش کړم چې د حضرت ابراهیم (ع) سره تړلي مذهبي واقعاتو ته په کښې اشاره شوې ده.

"رقیبان مې د هجران په اور کښې ولې
د خلیل په دود مې ربه په امان کړې"[5]

"هر ساعت لکه خلیل په عاشقۍ کښې
تماشه کړم د ګلزار په سرو لمبو کښې"[6]

د تاریخ له رویه په مذهبي واقعاتو کښې د حضرت ابراهیم(ع) د ژوند سره تړلو تاریخي واقعاتو هم د تلمیح ځاے نیولے دے او په مختلفو ډولونو سره ئې شاعران ذکر کوي. د حضرت ابراهیم (ع) په ژوند کښې چې کومې واقعې د تلمیح ځاے نیولے دے هغهٔ د حضرت ابراهیم(ع) او نمرود ترمینځه راغلې واقعه ده. په پورته دواړو شعرونو کښې هم دغه واقعې ته اشاره شوې ده،

دواړو شعرونو کښې حمید بابا "خلیل" یاد کړے دے چې مراد ترې حضرت ابراهیم علیه السلام دے۔

حضرت ابراهیم (ع) چې په کوم وخت کښې الله تعالیٰ د انسانانو د رهنمایۍ دپاره د یو پېغمبر او پېشوا په توګه راستولے وۀ، په دغه اوان د نمرود غونډې جابر او متکبر بادشاه د سلطنت د مشرۍ په ګدۍ ناست وۀ۔ چې هر خوا ئې د مال او منال چرچه خوره وه۔ حضرت ابراهیم (ع) د الله پاک وحدانیت بیانولو او د هغه همه احکام به ئې اولس ته پېش کول۔ ولې نمرود د خپلې سرکشۍ له وجې کله هم د حضرت ابراهیم (ع) د ښودلې لارې پلوي جوړېدو ته تیار نۀ وۀ، ځکه چې نمرود په خپله ځان خدا ے ګڼلو۔ او حضرت ابراهیم (ع) ته ئې د هغۀ په وعظ ونصیحت او د سپېځلي دین په تشهیر کښې قسما قسم مسائل پېدا کول، اخر چې حضرت ابراهیم(ع) د خپل کار نه په څنډه نۀ شو نو د نمرود په حکم ئې د سېزلو بند بنا جوړه کړے شوه او د حضرت ابراهیم(ع) د سېزلو دپاره اور تیار کړے شو، د دغه اور دپاره د ډېر وخت نه د خشاک جمع واري شوې وه۔ دغه اور دومره ګرم وۀ چې د ډېر تپش دلاسه پرې دپاسه مارغان هم نۀ شو الوتے۔ ډاکټر حامد حسین لیکي:

"ایک سرکش او جابر بادشاہ جو حضرت ابراہیم کے زمانے میں تھا، اور اپنے آپ کو خدا سمجھتا تھا۔ اس کے حکم سے حضرت ابراہیم (ع) کو آگ میں ڈالا گیا تھا، یہ آگ اس قدر زبردست تھی کہ پرندے تک اس کے اوپر سے نہیں اڑ سکتے تھے اور اس کی تپش سے چار چار پر سنگ تک کوئی جاندار قریب نہیں آ سکتا تھا۔"[7]

ترجمه: یو سرکش او جابر بادشاه وۀ، چې د حضرت ابراهیم (ع) په زمانه کښې وۀ او خپل ځان ئې خدا ے ګڼلو۔ د دۀ په حکم حضرت ابراهیم (ع) اور ته اچولے شوے وۀ۔ دا اور دومره تېز وۀ چې مارغان ئې هم دپاسه نۀ شو الوتلے او د تپش دلاسه ئې د څلورو پرلانګو پورې کوم زنده نۀ شو راتلے۔ د حضرت ابراهیم(ع) د ژوند سره تړلې دغه یاده او مهمه واقعه د تلمیح په توګه په شاعرۍ کښې بیانېږي۔ د حمید بابا ذکر شوي شعرونه هم د دغه سلسلې حصه ده۔

مذهبي تاریخ د ډېرو لویو واقعاتو یو اوږد تسلسل دے۔ دغه تاریخي واقعات د اولس په ژبه دومره یاد پاتې شوي دي چې د وخت سره ئې تلمیح مقام حاصل کړے دے۔ په مذهبي

واقعاتو کښې د حضرت امام حسېن(رض) او امام حسن(رض) د شهادت مبارک واقعه هم د مذهبي واقعاتو د زنځیر یوه مهمه کړه او دومره درد منده واقعه ده چې ډېر کلونه پس هم په دغه ورځو د حسینانو په نامه یو قسم له د غم او خفګان اظهار کېږي. عاشوره ورته هم وائي. د عاشورې د یادؤنې په شکل کښې هم ډېرو شاعرانو دغه مهمې پېښې ته اشارې کړې دي. د نورو شاعرانو نه علاوه د عبدالحمید بابا په شاعرۍ کښې د تلمیح په شکل دغه واقعات څۀ داسې ذکر شوي دي:

"پــــه رقیــــب لـــه مـــا نـــه مهـــر مزیـــد مـــۀ کـــړه
د حســـــین پـــــه مــــرګ مـــدد د یزیـــد مـــۀ کـــړه"[8]

"لکـــه ګــــرم چـــې پـــه حســـن حســـین یزیـــد وۀ
هســـې ګــرم پـــه مـــونږ جمـــال وۀ کـــه څـــوک ســـوال کـــه"[9]

حضرت امام حسن (رض) او حضرت امام حسین(رض) دواړه د حضرت محمد(ص)نمسي او د حضرت علي(رض) او فاطمې (رض) بچي وو. دوي په یوه پاکه او مذهبي کورنۍ کښې زېږېدلي دي، دا ډول ئې په زړۀ او ذهن د جهل پرضد د اسلام د سپېڅلي دین رڼا ځاے شوې وه تر دې چې په هر یو وخت کښې د اسلام د سرلوړۍ دپاره د کفارو خلاف مبارزه کښې د خپل سر نه تېر وو، او بیا د کربلا په میدان کښې دوي په عملي ډول د دغه مینې په پرېمانه پېمانه اظهار کړے دے. د اسلام د سرلوړۍ دپاره ئې د یزید د لښکر په مقابله کښې د شهادت جامونه نوش کړي دي او د مذهبي تاریخ یادې نامې ګرځېدلې دي. پورته شعرونو کښې حمید بابا که څۀ هم خپل فکر بیان کړے دے خو ورسره ئې د کربلا دغه لوئې واقعې ته اشاره کړې ده.

الله تعالیٰ وخت په وخت د انسانانو د رهنمایۍ او لارښودنې په غرض په مختلفو وختونو سره مختلفو قامونو او خلقو ته پېغمبران رالېږلي دي، حضرت یعقوب (ع) هم د الله پاک د طرف نه مقرر کړے شوے برګزیده پېغمبر وۀ. د حضرت یعقوب(ع) ټول یوولس زامن وو، چې حضرت یوسف (ع) او بن یامین په کښې د راحیلې له نسه زېږېدلي وو او نور زامن ئې له نورو بیبیانو

ښخه وو ـ د حضرت یعقوب(ع) په اولاد کښې یوسف(ع) ته الله تعالیٰ د نیم جهان حسن ورکړے وۀ، د دې نه علاوه د یعقوب(ع) په اولاد کښې د ټولو نه زیاته مینه هم د هغۀ سره وه ـ د حضرت یوسف(ع) سره د حضرت یعقوب(ع) دغه مینه کله هم نورو ورونړو نۀ برداشت کوله ـ په دې وجه د یوسف(ع) ورونړو یوسف(ع) کوهي ته اچولے وۀ ـ دا د یوسف(ع) د ژوند سره تړلې یوه اوږده واقعه ده ـ په دغه تسلسل کښې نور ډېر ذیلي واقعات مخې ته راغلي دي چې د تلمیحاتو په زمره کښې ځانګړے کردار لوبوي ـ د نورو ډېرو واقعاتو نه علاوه د مصر په ښار کښې د زلیخې په حضرت یوسف(ع) مینه راتلل، په یوسف(ع) تهمت لګېدل او یوسف(ع) قېد کېدل د حضرت یوسف(ع) د ژوند سره تړلې یوه یاده واقعه ده چې د تلمیح په توګه ئې شاعران ذکر کوي ـ د حمید بابا په شاعرۍ کښې د حضرت یوسف(ع) د ژوند سره تړلې دغه واقعې ته څۀ داسې اشاره شوې ده چې:

"زلیخـــــــا د بادشـــــــاهۍ منصـــــــب پرېښـــــــود
چـــــې حاصـــــله ئـــــې پـــــه عشـــــق شـــــوه ابتـــــدا"[10]

"چـــــې بادشـــــاهه زلیخـــــا ئـــــې کـــــړه ګدایـــــه
پـــــرې بـــــه نـــــۀ ږدي پـــــه ځـــــاے مینـــــه قـــــول د چـــــا"[11]

دحضرت یوسف (ع) د ورونړو په لاس د هغۀ کوهي ته غورځېدل د هغوي د ژوند سره تړلې یوه داسې واقعه ده چې د الله تعالیٰ د لویۍ، برترۍ او په هر څۀ د قادرۍ اظهار ترې کېږي خو د دې نه علاوه دغه واقعې د نورو واقعاتو مخه خلاصه کړې ده د حمید بابا دا شعرونه هم د حضرت یوسف(ع) د ژوند سره تړلو واقعات په ډاګه کوي چې زړۀ پورې تلمیحات دي ـ

"د یوســـــف د مـــــخ ډیـــــوه شـــــوه هالـــــه بلـــــه
چـــــې ئـــــې ســـــور کـــــړو پـــــه ځپېـــــړو بـــــرادر مـــــخ"[12]

"د یوسف په دود به پرېوځي وکوهي ته
چې د عشق ومعراج ته لري شوق"[13]

د حضرت یعقوب(ع) د حضرت یوسف(ع) سره بې کچه مینه وه، چې ټول مذهبي تاریخ ئې ګواهي کوي، دغه شان کله چې حضرت یوسف(ع) خپلو ورونو کوهي ته واچوؤ نو د حضرت یعقوب(ع) ورپسې بې انتها وژړل، د حضرت یوسف(ع) جدایۍ دومره زهیر کړو چې د سترګو نظر ئې ورپسې ختم شو۔ حمید بابا ئې داسې ذکر کړے دے:

"نۀ فرهاد وامق غندې لۀ ځانه شوم بې ځانه
نۀ ورپسې ړوند لکه یعقوب په تمنا یم"[14]

مذکوره شعر کښې د وامق او فرهاد ذکر شوے دے چې یاد روماني کردارونه دي۔

د حمید بابا په کلام کښې چې د مذهبي تلمیحاتو کومه برخه ده، نو یو خو داسې ده چې هغوي د مختلفو پېغمبرانو د ژوند سره تړلو او د نورو مهمو مذهبي واقعاتو تذکرې کړې دي، خو د دې نه علاوه ئې په خپله شاعرۍ کښې نېغ په نېغ د قرآني ایت ذکر هم کړے دے۔ د دې نه دا خبره معلومېږي چې حمید بابا د نورې عمومي پوهې نه سربېره د کره مذهبي پوهې او علم خاوند وۀ۔ په دې لړ کښې ئې دا شعر د پېش کولو وړ دے چې د قرآن پاک ایت ته په کښې اشاره شوې ده:

"اول ولوله ایت د لن تنا
هله لاف د محبت کړه د اشنا"[15]

د حمید بابا په پورته شعر کښې قرآن مجید دې ایت ته اشاره شوې ده:

"لن تنالو البر حتی تنفقو مما تحبون وما تنفقو من شی ء فان الله به علیم "(قرآن پاک، سوره ال عمران، ایت نمبر ۹۲)

ژباړه: (مومنانو) تر څو چې تاسو د هغهٔ څيزونو نه کوم چې تاسو ته بې کچه ګران دي(د خدا ے) په لاره کښې خرچ نهٔ کړئ نو هيڅ به هم نيکي ونهٔ مومئ او کوم څيز چې تاسو خرچ کوئ خدا ے ته معلوم د ے۔"[16]

حضرت موسیٰ (ع) يو بل جليل القدر پېغمبر وهٔ، چې الله تعالیٰ ورته مختلفې نهه معجزې ورکړې وې۔ د حضرت موسیٰ(ع) په معجزو کښې يوه معجزه د هغهٔ امسا وه، چې الله پاک اول حضرت ادم(ع) ته ورکړې وه او بيا وروستو په تسلسل سره تر دوي راورسېدهٔ۔ دغه امسا نه به دوي د ورځې په کارونو کښې مرسته اخسته او د شپې به ئې رڼا کوله۔ په دغه وخت کښې د جادوګرو او کوډګرو خلقو زور او شور هم د ذکر وړ د ے۔ د موسیٰ(ع) د امسا خصوصيت دا هم وهٔ چې کله به ئې دا امسا زمکې له راواچوله نو د اژدها شکل به ئې اختيار کړو او د جادوګرو ټول ماران به ئې اوخوړل۔ حميد بابا د حضرت موسیٰ(ع) د دغه امسا ذکر په دې شعرونو کښې کړ ے د ے، چې په يادؤنې ئې د لوستونکيو ذهن ته د حضرت موسیٰ(ع) د شخصيت مبارک سره تړلي مذکوره معجزات رامخې ته شي۔

"سـم قامـت د هغـه يـار راغـے پـه خـوا کښې
کـه همسـا پـه لاس کښې راغلـه د موسـی"[17]

"هسـې زهٔ سـتا د قامـت پـه خيـال تکيـه کـړم
هـر نفـس لکـه موسـیٰ کـړه پـه عصـا"[18]

"کـه همسـا ئـې د موسـیٰ بـولي وګـړے
بنـائي نـن سـبا حميـده سـتا قلـم"[19]

حضرت نوح(ع) يو بل د يادؤني وړ پېغمبر تېر شو ے د ے ۔د حضرت نوح (ع) خپل نوم شاکر وهٔ، شکر هم ياد شو ے د ے۔ د دې نه علاوه عبدالغفار او سکن هم د دوي نومونه يادېږي۔

وروستو په قام د نوحې کولو له کبله د دوي نوم"نوح" شو- عارف ختټك په دې بابله په قصص الانبیاوائي چې :

"د حضرت نوح علیه السلام نوم شکر وۀ- د هغې نه بعد نوح شو دا په دې واسطه چې دۀ به په خپل قوم باندې نوحه ډېره کوله"[20]

د حضرت نوح(ع) د نبوت نه وړاندې پوره خلق د اسلام په دائره کښې شامل وو، خو ورو ورو خلق بیرته د بې دینۍ ښکار شو- حضرت نوح(ع) خپل امت ته تر نهه نیم سوۀ کلونو پورې د الله تعالیٰ وحدانیت بیان کړے دے او د هغوي د مذهبي روزنې زیار ئې ترسره کړے دے، خو د دې دومره کوشش باوجود په خلقو کښې جاهلیت دومره زیات وۀ چې ډېر کم خلق د اسلام په دائره کښې داخل شوي وو- حضرت نوح(ع) چې کله خپل امت ته په وعظ او نصیحت ستړے شو او د مایوسۍ ښکار شو نو د خلې نه خپل امت ته بد دعائي وختله- دغه بد دعائي قبوله شوه او د یو طوفان په شکل کښې پرې سخت عذاب نازل شو- د دغه طوفان نه محض هغۀ خلق بچ او سلامت پاتې شو چې د حضرت نوح(ع) په وېنا ئې ایمان راوړے وۀ او مسلمانان شوي وو-

"اخر کار نا امید اور تنگ ہو کر حضرت نوح نے اپنی قوم کے لئے بد دعا کی اور اسمانی طوفان نے پوری قوم نوح کو غرقاب کر ڈالا، صرف وہ افراد صحیح سلامت اور محفوظ رہ گئے تھے جو نوح کی بدولت مسلمان ہو گئے تھے"[21]

ترجمه: اخر چې نا امېده او تنګ شو نو حضرت نوح(ع) د خپل قوم دپاره بد دعا وکړه او اسماني طوفان د نوح(ع) پوره قوم غرق کړو، صرف هغه کسان صحیح سلامت او محفوظ پاتې شوي وو چې د نوح(ع) په وجه مسلمانان شوي وو-

د حضرت نوح(ع) په امت راغلي د طوفان په شکل دغه عذاب د تلمیح ځاے نیولے دے او تر ننه ئې شاعران په خپلو شعرونو کښې ذکر کوي- حمید بابا دغه تلمیح څۀ داسې راوړې ده چې:

"نـــۀ کـــړي نـــوح د یـــار د خیـــال ورځنـــې ویـــره
کـــه مـــې اوښـــکې پـــه چشـــمانو کښـــې طوفـــان شـــي"[22]

په مذهبي تلميحاتو کښې ځۀ تلميحات داسې دي چې هغۀ د فرښتو سره تړلي دي، لکه د هاروت او ماروت سره تړلې يوه مهمه واقعه د مذهبي تاريخ اهمه کړي ده چې د تلميح په توګه تر اوسه ذکر کېږي. هاروت او ماروت دواړه د فرښتې وې. دغه فرښتو به د انسان د کمزورو او خامو پورې ټوقې او مسخرې کولې، خو چې کله د ازمېښت په توګه دغه فرښتې د انسان په شکل کښې دنيا ته راولېږلې شوې نو دلته دوي دانسانانو په شان په ګنا هونوکښې اخته شوې اوبياد دغه ګناه او خطا په بدل کښې هاروت او ماروت د الله تعالیٰ د عذاب ښکار شوې. ډاکټر حامد حسين ددې واقعې حقله ځۀ داسې رقم طراز دے:

"ہاروت وماروت: دو فرشتے جنہوں نے انسانی کمزوریوں کا مذاق اڑایا تھا۔ چنانچہ خدا نے انہیں امتحان کی خاطر انسانی شکل میں دنیا میں بھیجا۔ مروجہ لیکن غیر معتبر روایات میں یہ بیان کیا جاتا ہے کہ دنیا میں آکر یہ فرشتے زہرہ نام کی ایک حسین فاحشہ عورت کے عشق میں مبتلا ہو گئے اور اُس کے کہنے پر شراب خوری، بت پرستی اور قتل جیسے گناہوں کے مرتکب ہوئے"[23]

ترجمه: هاروت او ماروت: دوه فرښتې چې د انسانانو د کمزورو پورې ئې خندا کړې وه. خدا ے پاک د امتحان په خاطر د انسان په شکل کښې دنيا ته راولېږلې. مروجه خو غېر معتبر روايات کښې دا بيانيږي چې دنيا ته په راتلو دا فرښتې د زهره نومې ښکلې او فاحشې زنانه په عشق کښې مبتلا شوې او د هغې په وينا ترې د شراب خورۍ، بت پرستۍ او د قتل غوندې ګناهونه اوشو.

حميد بابا د هاروت او ماروت ذکر ځۀ داسې کړے دے:

"چې په کار زما د مينې کا ځوک طعن
پرې به وشي د هاروت او د ماروت"[24]

د پورته ټولو شعرونو او بحث نه دا خبره واضحه شوه چې د حميد بابا د شاعرۍ په فني جهتونو کښې تلميح يو بنيادي اړخ دے. په خصوصي توګه د مذهبي تلميحاتو ونډه خو ئې په شاعرۍ کښې په پربمانه توګه په نظر راځي چې د دوي شاعرۍ ته ئې فني نزاکت بخښلے دے او ورسره

ئې ترې د مذهبي پوهې ادراک هم کېږي. دغه شان د هغهٔ په کلام کښې ګڼ شمېر تلميحات په نظر راځي خو د مقالې د طوالت د وېرې له خاطره په لږو مثالونو اکتفاء کوؤ-

# حوالې

[1] هېواد مل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ(لومړے ټوک)، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، نومبر ۲۰۰۰ء، مخ ۲۱۵

[2] خټک، اقبال نسیم، ډاکټر، خوشحال او جمالیات (اول ځل)، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۸۷، مخونه ۵۳۲، ۵۳۳

[3] جهان عالم، ډاکټر، ټپه او تلمیحات، پښتو اکېډیمي کوئټه، اګست ۲۰۱۳، مخ ۵۶

[4] صدیقی، مصاحب علی، ڈاکٹر، اردو ادب میں تلمیحات، نظامی پریس لکھنؤ، 1990ء، ص221

[5] بابا، عبدالحمید، در او مرجان، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۱۹۷۸ء، مخ ۲۵۶

[6] هم دغه اثر، مخ ۲۶۵

[7] حامد حسین، ڈاکٹر، اردو شاعری میں مستعمل تلمیحات، پاشا پرنٹنگ پریس بھوپال، 1977ء، ص238

[8] بابا، عبدالحمید، در او مرجان، مخ ۱۸۹

[9] هم دغه اثر، مخ ۱۹۹

[10] هم دغه اثر، مخ ۳۲

[11] هم دغه اثر، مخ ۴۲

[12] هم دغه اثر، مخ ۷۰

[13] هم دغه اثر، مخ ۱۱۹

[14] هم دغه اثر، مخ ۱۳۸

[15] هم دغه اثر، مخ ۳۴

[16] قرآن کریم (پښتو ترجمه)، مترجم محمد نواز طائر، سوره ال عمران، ایت نمبر۹۲ ، مخ ۷۶

[17] بابا، عبدالحمید، در او مرجان، مخ ۳۷

[18] هم دغه اثر، مخ ۴۵

[19] هم دغه اثر، مخ ۱۳۵

[20] عارف خټک، امانت خان، قصص الانبیاء (پښتو ترجمه)، پېښور، زېب ارټ پبلشرز، کال نۀ لري، مخ ۷۱

[21] ثوبان سعید، فرہنگ تلمیحات، نیو انڈیا آفسیٹ پرنٹرز نئی دہلی، 2011ء، ص۲۹۰

[22] بابا، عبدالحمید، در او مرجان، مخ ۲۳۸

[23] حامد حسین، سید، ڈاکٹر، اردو شاعری میں مستعمل تلمیحات، ص ۲۴۸

[24] بابا، عبدالحمید، در او مرجان، مخ ۵۹